# رباب د تاریخ پهٔ رڼا کښې

# تحقیقي او تنقیدي جایزه

# Rabab in History A research and critical Study

*Rashid Ahmad Khan

**Abstract:**

In this article I trace out the historical and geographical location of Rabab, a famous and popular instrument of Pashto music. Different nations have made different claims regarding Rabab, however, we juxtapose all of them against each other to find out to what extent these claims are true.

Keywords: Rabab Gandhara instrument Pashtun

رباب پهٔ جنوبي ایشیا کښې خاص طور پهٔ فغانستان او پاکستان شمالي علاقه جات، خیبرپښتونخوا او د کشمیر یو مشهور ساز دے۔ چې نن سبا د عالمي موسیقۍ پهٔ دنیا کښې ئې هم یو نوم پیدا کړے دے۔ د رباب د نوم نه ظاهرېږي چې دا د عبرانۍ سره منسوب نوم دے او دا ساز به هم د دغه سیمو د خلقو ایجاد وي۔ خو تر اوسه پورې داسې هیڅ قسمه دلیل چا نهٔ دے پېش کړے چې ایا دا ساز د چا ساز دے د کومې راغے او چا ایجاد کړو۔

نن به د رباب دغه پټ حالات ښکاره کولو کوشش پهٔ دې مقاله کښې مخ پهٔ وړاندې راوړو۔ پهٔ پاکستان خیبرپښتونخوا ا و د افغانستان ننګرهار، پکتیا، پکتیکا، قندهار ، کابل کښې د دې ساز نوم رباب دے بیا پهٔ شمالي افغانستان

---

*PhD scholar University of Peshawar

او پارس کښې ورته رُباب وئيلے شي۔ په چاينه کښې د چترالي سيتار ډول يو ساز دے چې ورته يو "رواپ" وئيلے شي۔ اوس کۀ چرې مونږه په لسانياتي بنياد دغه خبره کوو نو زمونږ د ژبو (ب) د چيني ژبو سره په نيم (و) کښې بدلېږي۔ ځکه نو "رواپ" دغه په اصل کښې رباب دے۔ په عرب کښې ورته "روباپ" وئيلے شي۔ هم دغه ډول په يورپي ملکونو او په خصوصي توګه لاطيني کښې ورته رېبک وئيلے شي۔ دا هر څۀ چې په نظر کښې وساتو نو دا خبره هم ده چې پ ۀ د رباب دغه ساز متنازعه هم په دې وجه دے چې هر څوک ئې خپل بولي۔ لکه په برصغير کښې پرې هندوان خپله دعوه کوي چې دا زمونږ ساز دے او دغه شان مسلمان ئې خپل ايجاد ګرځوي۔ او داسې باقاعده ثبوت د چا سره هم نشته چې څرګنده شي پرې چې په باقاعده توګه دا ساز د چا دے۔ په دې حقله د مختلفو محقيقنو مختلفې رائې دي خو د رباب د اصليت د پاره چې دومره مقبول ساز دے او په پاکستان، افغانستان او هندوستان کښې ئې يو لوے نوم دے د دې نه علاوه په نورو هېوادونو کښې دومره شهرت نۀ لري لکه څومره چې په دې ملکونو کښې لري۔ د دې د پاره چا دا کوشش نۀ دے کړے چې ايا په دغه زمکه چې رب اب پرې يو مشهور ساز دے۔ ايا مونږه سره په دغه زمکه څۀ تاريخي يا زمکني څۀ مواد په لاس راځي۔؟ او زياتره خلق چې کوم دليلونه پېش کوي هغه د اسلام د راتلو نه پس دي يعنې لرغوني نۀ دي۔ راځو دې خبرې له چې دلته خپله خبره د تا ريخي او زمکني شواهدو په رڼا کښې د رباب په حقله خپله خبره څرګنده کړو۔ د وېدي دور د کتابونه چې رګ وېد، يجروېد، سام وېد اتر وېد مهابارت او رامائڼ په دې کتابونو کښې د مختلف سازونو ذکر شوے دے چې يو ساز پکښې بار بار تکرارېږي چې نوم ئې "وينا" دے او د تار ساز دے۔ رګ وېد کښې وائي چې:

"او چې کله الوځي نو اواز ئې د وينا په شانتې وي"[1]

پۀ یجر وېد کښې وئیلي شي چې:

"Give us the music of the lute, the Drum player, the flute player, and song and celebration for Dance and joy.[2]"

ژباړه: زمونږ د خوشحالۍ او د ګډا د پاره د سندرو سره سره د شپیلۍ غږونکے، د ډهو ل غږونکے او د وینا ساز راکړه۔

هم دغسې پۀ راماینړ کښې وائي چې:

"While drum and flute and shell and lute made music in the sky"[3]

خو د ډول، شپېلۍ، ګګو او "وینا" پۀ اسمان کښې د موسیقۍ یوه فضا جوړه کړه"

پۀ مهابهارت کښې وائي

The delightful sound of venas, panavas, and bamboo flutes. was heard."[4]

زړۀ راښکونکے اواز د وینا د پناواز (د ډول یو قسم) او بمبو شپیلۍ (غتهه او اوږده د بانس شپېلۍ) پۀ غوږو ولګېدو۔

پۀ دغه پورته ذکر شوي کتابونو یعنې حوالو کښې بار بار ما د وینا ذکر وړاندې کړو۔ دا هغه کتابونه چې د روحاني س ندرو پۀ توګه باندې لرغونیو خلقو د ځان سره د یاداښتونو پۀ توګه باندې خوندي ساتلي دي۔ هر کله چې لیک پۀ رسمي

توګه باندې ټولنيز ژوند ته رادننه شو او بيا چې کله "پانيني" د سنسکرت ګرائمر وليکو نو دغسې هم دغه الهامي سندرې په کتابي بڼه کښې خوندي شوې۔

هر کله چې د "وينا" د ساز ذکر کيږي نو دا خبره خو سمه ده چې د وينا د ذکر سره د تار د غږولو يادونه کيږي۔ خو په مجسم ډول باند ې د "وينا" شکل او صورت داسې کوم تصوير يا خاکه په دې کتابونو کښې ن شته۔ د ويدي کتابونو دوره د دوه نيم زرو کلونو نه واخلې تر درې نيمو زرو کلونو پورې ده۔ چې بيا د دغه دورې نه پس د ګندهاره د تهذيب اغاز کيږي. دا خبره هم د يادونې وړ ده چې د ګندهاره تهذيب جوړښت د مختلفو ثقافتونو د يو ځاے کېدو نه کيږي چې پکښې د يوناني، رومن، فارس، چينيان او د دې خطې د ارين خلقو د تهذيبي رنګونو اثر ليدے شي۔ هم په دغه ډول د يو قسم مجسمه سازۍ ارتې ابتدا چې شوې هم په وړومبۍ صدۍ کښې د کوشانيانو د دور نه سر اخلي۔ د دې مجسمو د لارې د مهاتمه ګوتم بدھ د تعليماتو پرچار شروع شوے دے۔ ځکه د دغه دورې د علميت سره سره د تهذيب او تمدن



اندازه هم د دې دورې نه لګي۔ هم سازونه د کومو ذکر چې په ويدي کتابونو کښې شوے دے د هغې شکل او صورت د دې دورې په مجسمو کښې مونږ ته ملاوېږي۔ دغسې د ګندهاره ارټ په دغه مجسمو کښې مونږ ته د بلها سازونو حوالې ملاوېږي۔ په هندوستان کښې د "وينا ساز" د هندومت خلق د سيتار په رنګ ساز ته وائي۔ خو دا سيتار د چترالي سيتار نه بدل دے بلکې د دې شکل د هندوستان د "تانپورې" سره ملاوېږي لکه دغه عکس ته وګورئ . اهل هنود وائي چې دا هم هغه وينا ساز دے کوم چې په

وېدونو کښې تکرار شوے دے.خو د دې خبرې د دوي سره هيڅ دليل نشته چې واقعي دا هم هغه ساز دے کوم چې پهٔ ويدونو کښې ذکر شوے دے.البته د دې اندازه د ګندهاره د مجسمو او کتبو نه لګولې شو .ځکه نو د ګندهاره پهٔ مجسمو کښې د داسې کوم سازونو مجسم عکس نشته کوم چې د اهل هنود تر مخه وئيل شوي دي يعنې د وينا مجسم شکل نهٔ دے جوړ شوے.بلکې د کوم ساز حوال ه چې بار بار د ګندهاره پهٔ کتبو کښې راځي د هغي شکل پهٔ باقاعده توګه باندې د "رباب" سره ملاوېږي.هم دغه ساز د "رباب" دے چې نن ورته مونږه "رباب" وايو. دلته زهٔ دې خبرې له راځمه چې پهٔ وېدونو کښې د کوم "وينا" مذکوره ذکر شوے دے دا پهٔ اصل کښې "رباب" دے خو د "وينا" د نوم نه رباب شوے دے.

هم دغه "وينا" ده چې کله هندوستان ته اسلام راداخل شو نو د عربي لب او لهجې سره د دې نوم "رباب" ګرځېدلے دے. سورېندر موهن ټېګور چې د بنګالي موسيقۍ استاد او پهٔ دې ئې کتابونه هم ليکلي دي پهٔ خپل کتاب "ينترکوش" کښې ئې څو ځايه دا وئيلي دي "چې "رودروينا" او رباب يو ساز دے.پهٔ هندوستان د مسلمانانو د حملو نه مخکښې دا ساز پهٔ وينا مشهور وهٔ خو ورستو رباب شوے دے." هم دغسې مشهور محقق "سوامي پرجنان انند" وائي چې:

> The rabab is also a kind of veena, known as Rudra-veena in Afghanistan and Persia, the rudraveena is called the rabab and in Arabia it is known as Rubab.[5]".

> "رباب د وينا يو قسم دے چې د "رودروينا" پهٔ نوم باندې مشهور دے افغانستان فارس کښې دې ته "رباب"وئيلے شي. او عرب ورته روباب وائي "

اوس د دې دواړو ښاغلو سره اختلاف پۀ دې وجه ممکن دے چې دوي د رودر وينا او رباب يو ساز ګڼي. حالانکې کۀ وکتل شي نو د دواړو الو جوړښت بېخي د يو بل نه بدل دي. رودروينا هغه اله ده چې د جوړښت پۀ لحاظ باندې لويه ده او اوږده ده پۀ نسبت د



رباب. ځکه د دې د غړولو پۀ وخت کښې به دا پۀ اوږه باندې کېښودې شوه. ولې بل خوا کۀ مونږ د کوشان د دور او د ګندهاره د دور د مجسمو ارټ وګورو نو پۀ هغې کښې داسې مجسمې هم شته چې بېخي د نن غوندې د رباب شکل لرونکې الې ئې پۀ غېږه کښې ليدل ے شي. لکه دغه تصوير تاسو وګورئ. دغسې چې مونږه د موجوده رودروينا شکل او صورت ته وګورو نو بېخي د رباب يا د غه پورته عکس نه بدل دے .لکه دې عکس کښې تاسو وګورئ .



سوامي انند وائي چې رباب د وينا يو قسم دے خو دا خبره سمه نۀ ده اصل کښې د رباب هم دا حالت چې نن هم پۀ کوم ډول دے هغه وخت هم و خو صرف دومره ده چې هغه و خت ورته وينا وئيل کېږه او نن رباب دے. يعني پۀ اريائي کتابونو چې چرته هم د وينا زکر دے هغه هم دغه د نن رباب دے.

د موسيقۍ پۀ الو کښې چې کوم ګروپونه مونږه د يو کور يا يوقسم ګڼو پۀ هغې کښې رباب او رودر وينا بېخي د يوبل پۀ ضد ډلو کښې شمارل کېږي يعني

دغه د یو ګروپ الي نۀ دي.لکه د مثال پۀ توګه د رباب پۀ ګروپ کښې سرود ،
لیوټ، مینډولین او عود وغېره شمارلي کېږي. دغسې چې بل کوم ګروپ دے پۀ
هغې کښې هندي سیتار، تانپوره، رودروینا او داسې نور. خو اصل خبره دغه ده
چې رباب د لرغوني زمانې نه موجود دے کوم چې پۀ نخښنو نخ ښانو کښې لیدل
کېږي. خو د هند هنرمندانو دا یوه غلط العام تېروتنه وکړه چې دغه د وینا کوم




زکر چې پۀ وېدونو کښې راغلے دے پکار وه
هم دغه رباب ته ئې وینا وئیلے وې دوي
کښېناستل او بله کومه اله ئې سازه کړه چې د
وینا نامه ئې ورباندې کښېښوده. دغسې رباب
چې وینا وۀ خ پل تاریخي اهمیت ئې لۀ لاسه
لاړو.

دلته بله خبره هم د پام وړ ده چې څنې خلق دا
خبره هم کوي چې د "عود" پۀ نامه کومه اله چې
یونانیانو د ځان سره دوه نیم زره کلونه مخکښې راوړې وه چې دغه رباب هم دغه
عود ګڼلے کېږي. خو داسې هم ده چې کېدېشي دغه عود هم د دې خاوري وړلے



شوے کومه اله (رباب) وي چې نن پۀ عود مشهوره ده. څکه نو مونږه د ګندهاره د

دور پۀ عکسونو کښې څرګنده کړه چې پۀ څرګنده ډول باندې رباب پۀ دغه تصویرونو کښې لیدل کېږي کوم چې ښکاره د اوسني رباب سټرکچر دے۔دغه رنګه د تار پۀ سازونو کښې مونږ ته د ګندهاره پۀ ارټ کښې د رباب نه علاوه بله کومه د ساز اله څرګنده پۀ نظر نه راځي ځکه نو چې کومه اله لیدل کېږي یا پۀ عکسونو کښې موجوده ده هغه هم دغه رباب دے چې پۀ وېدي کتابونو کښې د وینا ساز پۀ نوم بار بار تکرار شوے دے۔دلته هغه ټول عکسونه ورکومه کوم چې د ګندهار پۀ ارټ کښې مونږ سره خوندي دي او پکښې د پښتنو دغه رباب پۀ واضحه ډول لیدل کېږي۔



پورته دغه دوه عکسونه چې د سوات میوزیم او پېښور میوزیم نه اخستي شوي وړاندې کوم چې د رباب شکل پکښې څرګند دے او زمونږ د خبرې کنکلوجن هم دا راوځي چې هم دغه ویناساز پۀ اصل کښې رباب وۀ۔

وړاندېزونه:

- د لرغونپوهانو، تاریخپوهانو او ادبپوهانو لۀ خوا پکار دي چې پۀ دې موضوع د خپل خپل نقطه نظر سره څېړنې وکړي او د پښتنو د وطن دغسې حقیقتونه مخې ته راوړي۔
- پۀ پښتونخوا کښې د میوزکالوجي ځانګې نشته ځکه نو پۀ مستقبل کښې دغه زده کونکو دا قسمه څېړنې لار هواروله شي۔
- د پښتني لرغونو اثارو جائزه د وېدي او ګندهاري ارټ سره یوه تقابلي جایزه پکار ده۔

# حوالې

[1] : رگ وید ، بجن ۴۳، منتر ۳

[2] : Yajar ved, Tulsi ram, (M.A, Ph.D) p. 906

[3] : The Ramayen of valmiki, Tranlate into English by Ralph T.H Griffith, p.1832

[4] : Maha bharat ,Translate by Pratab Chandra space roy, Vol.8 p.114.

[5] : Swami, parjanan anand, Historical development of indian music,p.384